# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**15قوس_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

فراه ولایت مهاجرینو ریاست لپاره نوی رییس معرفي شو------------------------------------------------------------1
فراه کې د درېو پراختیايي پروژو د چارو کتنه وشوه------------------------------------------------------------------2
۱۴۷ خانواده در ولایت ننگرهار، کمک شد----------------------------------------------------------------------------2
میدان وردگو کې ۱۰ تنو ته کمپیوترونه ووېشل شول------------------------------------------------------------------3
نماینده سازمان ملل متحد و سفیر اتحادیه اروپا، ازآمریت سرحدی تورخم دیدن بعمل آوردند--------------------------4
فرانسه: کالي کې د پنډغالو تېرل کېدوال له ګڼو ستونزو سره مخامخوي -----------------------------------------------5
کمپ لون پلاژ در شمال فرانسه: «انگلستان آخرین شانس من است«---------------------------------------------- 10

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## فراه ولایت مهاجرینو ریاست لپاره نوی رییس معرفي شو

د وزارت ویب سایت



د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیر المومنین د حکم له مخې مولوي عبدالغني احسان په دویم بست کې د فراه ولایت د مهاجرینو رییس په توګه د یو لړ مراسمو په ترځ کې چې د دې ولایت مرستیال والي مولوي عبدالکریم جهاد یار او د مهاجرینو وزارت مسلکي معین مولوي عبدالرحمن راشد ګډون درلود؛ دنده پیل کړه.

ښاغلي راشد د ګمارنې فرمان ولوست او په دغه ولایت کې یې د بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو ته د لا ښه خدمت په موخه نوي رییس ته د بریا هیله څرګنده کړه.

مسلکي معین هیله وښوده، چې د ښاغلي احسان په راتګ سره به د فراه اوسېدونکو ته ګټور خدمتونه ترسره شي.

د فراه مرستیال والي مولوي عبدالکریم جهاد یار نوي رییس ته د مبارکۍ تر څنګ وویل، چې د خدمتونو په وړاندې کولو کې زیاتې هڅې وکړي او د ریاست له کارکوونکو یې وغوښتل چې له نوي رییس سره بشپړه همکاري ولري.

د فراه د مهاجرینو نوي رییس مولوي عبدالغني احسان د اسلامي امارت له رهبرۍ مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې د ریاست کارکوونکو په همکارۍ به د دې ولایت اوسېدونکو ته اړین خدمتونه وکړي.

## فراه کې د درېو پراختیایي پروژو د چارو کتنه وشوه

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال او مل پلاوي د فراه ولایت په مرکز او ګلستان ولسوالۍ کې د دوو ښوونځیو د ودانیو او ۵۵ سرپناوو د چارو کتنه وکړه.**

**دغه پراختیایي پروژې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د ۹۴۹ زره امریکایي ډالرو په لګښت د مهاجرینو چارو وزارت او واو او اکر موسسو ترمنځ د هوکړه لیکونو پر بنسټ پیل شوې او تاکل شوې، چې ډېر ژر به بشپړې شي او ګټې اخیستنې به وسپارل شي.**

## ۱۴۷ خانواده در ولایت ننگرهار، کمک شد

ویب سایت وزارت




**برای ۱۴۷ خانواده، در ولایت ننگرهار کمک نقدی بتاریخ ۱۳ قوس توزیع شد.**

**خانواده ها شامل برگشت کننده گان بوده که قبلاً از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت، در نواحی شهر جلال آباد مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**کمک متذکره در دو بخش مبلغ ۲۱ هزار و ۱۸ هزار افغانی برای خانواده های متذکره از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توزیع شد.**

## میدان وردګو کې ۱۰ تنو ته کمپیوترونه وویشل شول

د وزارت ویب سایت



**د میدان وردگو ولایت د مهاجرینو چارو ریاست او د سولې موسسې په مالي همکارۍ لسو تنو بېځایه شویو او راستنو شویو ته د لېندۍ پر دولسمه کمپیوټرونه ورکړل شول.**

**دغو کسانو وړاندې له سولې موسسې څخه د کمپیوټر پروګرام په برخه کې د شپږ میاشتو زده کړو کورس بشپړ کړی و.**

## نماینده سازمان ملل متحد و سفیر اتحادیه اروپا، ازآمریت سرحدی تورخم دیدن بعمل آوردند

ویب سایت وزارت



به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت ننگرهار، نماینده سازمان ملل متحد و سفیر اتحادیه اروپا مقیم کابل از آمریت سرحدی تورخم آن ولایت به تاریخ ۱۲ قوس دیدن بعمل آوردند.

در این دیدار که آنان را نماینده های سازمان ها ی بین المللی نیز همراهی مینمودند با بخت جمال گوهر آمر سرحدی تورخم ملاقات و از کارکرد وی ستایش نمود ه افزودند: با روی کار آمدن امارت اسلامی در تورخم، چنین کارها و خدماتی در سطح بالایی برای مهاجرین افغان که قبلاً در اینجا وجود نداشت ارائه شده است.

آقای گوهر با اشاره پروسه کاری خدمات و فعالیت های آن آمریت برای مهاجرین، خواهان همکاری در رسیده گی به مشکلات بخش های مختلف آن آمریت از جانب آنان شد.

## فرانسه: کالې کې د پنډغالو تړل کډوال له ګڼو ستونزو سره مخامخوي

مهاجرنیوز




د بشري حقونو د څار سازمان چې د فرانسې شمالي کالې ښار کې د کډوالو د کمپونو د تخلیې عملیاتونه مستندوي وايي، د تېر اوړي له پای راهیسې له پنډغالو څخه د مهاجرو ایستلو کې زیاتوالی راغلی دی. د دغو کمپونو تړل کډوال له زیاتو ستونزو سره مخامخوي.

***بریټانیا ته د اوښتو هڅه، د کډوالو پېدغالي، د امنیتي تدابیرو ډېرېدل... کډوال نیوز د یوې میاشتې لپاره د فرانسې کالې ښار ته راغلی دی او تاسو ته د فرانسې له شمالي سواحلو څخه د روان وضعیت په اړه راپورونه چمتو کوي.***

**نن چهارشنبه د نومبر ۲۷ د کالې په موزل کمپ کې چې د ښار په زړه کې موقعیت لري فضا ارامه ده. دغه ځای کې چې سترې ډېرې پکې اېښودل شوې دي لسګونو کډوالو خیمې وهلې دي. که څه هم په دغه سیمه کې د ډېرو د کېښودلو هدف د کډوالو د راټولېدو مخنیوی دی، خو له دې سره سره یو شمېر کډوال دلته شپې ورځې تېروي.**

**نن سهار موزل کمپ کې کډوال خپلې خیمې، وسایل او هغه ترپالونه راټولوي چې له باران څخه د ځان ساتلو لپاره کارول کېږي. تمه ده چې یو ساعت وروسته امنیتي ځواکونه دغه کمپ ته راشي او هغه توکي له ځان سره یوسي چې کډوالو نه دي راټول کړي.**

**په کالې کې په هرو ۴۸ ساعتونو کې د کمپونو د تخلیې عملیاتونه ترسره کېږي. د دغو عملیاتو موخه د کډوالو راټولېدو ځایونو د جوړېدو مخنیوی بلل شوی چې له ۲۰۱۶ راهیسې د پا دو کالې د قومندانۍ له خوا عملي کېږي. په اونۍ کې درې ځله د پولیسو موټرونه د کالې بېلابېلو کمپونو ته ځي او شاوخوا ۱۰۰۰ کډوال له پېدغالو څخه باسي. هغه خیمې او ترپالونه چې مهاجرو نه دي راټول کړي او په کمپونو کې پاتې دي د پولیسو له خوا ضبطېږي. د دغو عملیاتو پر مهال کله ناکله کډوال هم نیول کېږي. خو د پولیسو له تګ څخه څو ساعته وروسته کډوال یو ځل بیا خپلې خیمې درووي او عادي ژوند ته راګرځي.**

**سوریایی کډوال اسام وایي: «کله چې پولیس راځي، موږ خپل توکي راټولوو او له دې ځای څخه وځو. خو د دوی د تګ وروسته بېرته راځو.» دغه ۳۴ کلن کډوال یوه اونۍ مخکې کالې ته رسېدلی او غواړي چې د سمندر له لارې بریټانیا ته ولاړ شي. هغه وایي: «ما په قبرس کې پناه ترلاسه کړه، خو هلته ژوند ناممکن و: کار نه و، سرپناه نه وه... هڅه مې وکړه چې هالنډ ته لاړ شم خو بریالی نه شوم. اوس غواړم چې ځان بریټانیا ته ورسوم. بله لاره نشته«.**



اسام یوه اونۍ مخکې کالې ته رسېدلی دی. انځور: کډوال نیوز

## د خیمو او ترپالونو په مرسته ژوند

د کمپونو د تخلیې دغه عملیاتونه تر ډېره د هغو کډوالو ژوند ستونزمنوي چې په لرو پرتو ځایونو کې اوسېږي. د دغه شمالي ښار په ختیځ کې، د مارک او کالې روغتون ته څېرمه، سوداني کډوال عبدالعزیز او ملګرو یې نن سهار په یوه ځنګله کې خپلې خیمې بېرته ترلې دي. که څه هم امنیتي ځواکونو د تخلیې عملیاتو په جریان کې یو شمېر وسایل ویجاړ کړي، خو د کمپ اوسېدونکو خپل مهم توکي راټول کړي وو: خیمې او پلاستیکي ترپالونه.

په اصل کې، د دغو عملیاتونو موخه د هغو ځایونو پاکول دي چې کډوال پکې اوسېږي. کالې کې د یوتوپیا ۵۶ سازمان همغږی کوونکې لورا پوانیې وایي: «هغه شخصي وسایل چې پولیس یې نیسي باید رسورسېږي

ته وسپارل شي ترڅو کډوال وکولی شي چې خپل توکي بېرته واخلي. خو په عمل کې بیا پولیس د کډوالو توکو ته توجه نه کوي. [ډېری وختونه] دغه وسایل ویجاړېږي او چارواکي نه شي کولی چې کډوالو ته یې بېرته ورکړي«.

له همدې کبله کډوال هڅه کوي چې خپل وسایل راټول کړي او له ځان سره یوسي.



Website: https://morr.gov.af

Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

Facebook: https://www.facebook.com/morr.gov.af2



سوډاني کډوالو اور بل کړی دی، ۲۷ نومبر ۲۰۲۴. انځور: کډوال نیوز

نن ماسپښين مهال د سوډاني کډوالو دغه ډله اشپزي کوي او د اور په بلولو سره ځان ګرموي او خپلې جامې وچوي. دغه ځای په ژمي کې له ختو ډک وي. دلته تل باران وريږي او د خلکو کالي او خيمې لمدوي.

دغه سوډانيان چې د دارفور له جګړه ځپلې سيمې څخه راغلي دي وايي چې د کمپونو د تړل کېدو پر له پسې عملياتونه د زغم نه دي. شپږ ويشت کلن عبدالعزيز چې له يوې مياشتې راهيسې په دغه پنډغالي کې اوسېږي وايي: «له کمپونو څخه شړل کېدل مهاجر ډېر ځوروي، په ځانګړې توګه کله چې هوا يخه وي. موږ ستړي شوي یو».

دغه تنکي ځوانان وايي چې ښايي د زيات وخت لپاره په کالې کې بند پاتې شي. دوی چې پيسې نه لري نه شي کولی په کښتيو کې ځانونه برېتانوي سواحلو ته ورسوي، له همدې کبله په لاريو کې برېتانيا ته د اوښتو هڅه کوي. خو د بريا چانس يې لږ دی.

د خلکو ژوند سختول

کالې کې د بشري حقونو د څار سازمان د کمپونو د پنډغالو د تړل کېدو عملياتونه مستندوي او د عملياتو پر مهال په کمپونو کې حاضر دی. وروستي لوی عمليات د نومبر په ۴مه د کالې په ختيځ کې ترسره شول چې په پايله کې يې د بي ام اکس په نوم کمپ وتړل شو. په دغه پنډغالي کې د کورنيو په ګډون شاوخوا ۱۰۰ کسانو ژوند کاوه.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

کالې کې د د غه سازمان همغږی کوونکې نوېمي کاسیو وایي: «دغه کمپ د سپتمبر په ۴مه هم له کډوالو خالي شوی و، خو د پولیسو له تګ وروسته مهاجرو هلته بېرته خیمې وهلې وې.» خو دا ځل کډوال بېرته بي ام اکس کمپ ته نه دي راغلي. د ښاروالی د یو فرمان له مخې، تمه ده چې په دغه ځای کې خنډونه جوړ شي.

د دغه کمپ اوسېدونکي چې ډېری یې د اتیوپیا او اریتریا دي اوس د کالې په نورو کمپونو کې ژوند کوي. نوېمي کاسیو وایي چې د خلکو تیت او پرک کول د دوی ژوند نور هم سختوي او سازمانونو ته د کډوالو لاسرسی محدودوي.



یوسف او ځیني نور اریتریایان او یوتوپیایان دغه ځای کې شپې سبا کوي. انځور: کډوال نیوز

»د خیمو شتوالی په دې مانا دی چې هلته خلک ژوند کوي«

یوسف د بي ام اکس کمپ له تړل کېدو وروسته له شاوخوا لسو نورو اتیوپیایي او اریتریایي کډوالو سره یو ځای په یوه کوچني پنډغالي کې اوسېږي. دغو کډوالو د ونو او بوټو لاندې خیمې درولې دي. یوسف وایي: «یوه میاشت کېږي چې دلته یم. دغه ځای کې ژوند ډېر سخت دی، په ځانګړه توګه کله چې باران ورېږي. هوا یخه ده او زموږ جامې لوندې دي«.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**د لورا پوانیې په خبره، د تخلیې د عملیاتونو موخه د کډوالو «نامريي کول» دي. هغه زیاتوي چې د پنډغالو له تړل کېدو وروسته خلک نورو ځایونو ته ځي او خیمې وهي. د نوموړې په وینا: «[په یوه سیمه کې] د خیمو شتوالی په دې مانا دی چې هلته خلک ژوند کوي«.**

**د بشري حقونو د څار سازمان وايي چې په تېرو څو میاشتو کې د کمپونو تړل کېدو پراخ عملیاتونه زیات شوي دي. د دغه سازمان همغږی کوونکې نوېمي کاسیو وايي چې له اګست راهیسې کالې کې شپږ پراخ عملیات ترسره شوي دي. هغه په دې آند ده چې دا کار په انګلیس کانال کې <u>د کښتیو د ډوبېدو له وروستیو پېښنو</u> سره تړاو لري. په وینا یې: «تېرو څو وختونو کې ګڼ شمېر پېښې ثبت شوې او زیات کسان مړه شوي دي... چارواکي فکر کوي چې که چېرې دلته کمپ نه وي نو خلک به هم نه وي او له سمندره تېرېدو به هم نه وي«.**

**په روانه اونۍ کې د خرابو اقلیمي حالاتو له امله کډوالو د سمندر له لارې برېتانیا ته د اوښتو هڅه نه ده کړې. د شپې په را رسېدو سره مهاجر خپلو خیمو ته دننه کېږي. یوسف وايي: «تر یکشنبې پورې هوا همداسې ده.» خو کله چې هوا ښه شي، نو سفرونه به هم له سره پیل شي.**

## کمپ لون پلاژ در شمال فرانسه: «انگلستان آخرین شانس من است «

مهاجرنیوز



**صدها مهاجر در شمال فرانسه منتظرند تا بعد از عبور از کانال مانش به بریتانیا بروند. این مهاجران که درخواست پناهندگی شان در فرانسه رد شده یا "دوبلینی" هستند، اعتقاد دارند که آینده آنها در تنها بریتانیا تامین خواهد شد. با آن که اکثر آنها هنگام فرار از کشورشان، هیچگاه به این فکر نبوده‌اند.**

***مهاجر نیوز به مدت یک ماه در کاله، دنکرک و دیگر شهرهای شمال فرانسه رفته تا از تلاش‌های مهاجران برای رفتن به بریتانیا، عبور آنها از کانال مانش و وضعیت آنها در کمپ‌ها و افزایش تدابیر امنیتی، گزارش تهیه کند.***

**در کمپ لون پلاژ در نزدیکی کاله، رسیدن یک موتر با شماره انگلیسی جمعیت را به حرکت می‌آورد و همه به سوی آن هجوم می‌برند. موتر متعلق به یک فعال حامی مهاجران از ویلز (بریتانیا) است و یک تیلر کوچک را با خود می‌کشد. مهاجران در گروه‌های دو یا سه نفره، تخته‌ها و پلت‌های چوب را از تیلر برمی‌دارند تا آنها را به کمپ موقت خود که در چند متری، در میان یک جنگلزار پراگنده شده، ببرند .مهاجران با استفاده از این کالای گرانبها، در سرمای شدید آتش روشن می‌کنند تا گرم شوند.**

**عرفان الله، مهاجر افغان که مانند دیگر مهاجران کمپ، در انتظار رفتن به بریتانیا است نیز اینجا آمده است. این جوان افغان از رفتار پولیس شکایت می‌کند و می‌گوید: « امروز پولیس آمد، خیمه‌های بچه‌ها را نکه و پارچه کرد و همه چیز را گرفت. هیچکس در این سرما برای خواب، خیمه، کمپل و پوشیدنی ندارد «.**

**»در لندن برایم اسان تر خواهد بود«**

**عرفان الله در بلژیک «دوبلینی» بود و مجبور شد چندین ماه در جاده‌های بروکسل بخوابد. او می‌گوید: «در دوره‌ای که شما تحت مقررات دوبلین هستید، نه جای دارید، نه غذا... خیلی سخت بود، بنابراین تصمیم گرفتم [از بلژیک فرانسه بیایم تا] لندن بروم. آنجا برایم آسان‌تر خواهد بود«.**

**اکبر خان رحیمی، یک افغان دیگر که از ولایت ننگرهار است، می‌گوید که درخواست پناهندگی او چندین بار در فرانسه رد شده به همین دلیل می‌خواهد از طریق کانال مانش به بریتانیا برود .اکبرخان هفت یا هشت بار تلاش کرده تا با قایق خود را به بریتانیا برساند، اما تلاشش ناکام مانده است.**



مهاجران تخته‌ها و پلت‌های چوب را از تیلر برمی‌دارند تا آنها را به کمپ موقت خود که در چند متری، در میان یک جنگلزار پراگنده شده، ببرند. مهاجران با استفاده از این کالای گرانبها، در سرمای شدید آتش روشن می‌کنند تا گرم شوند، نومبر ۲۰۲۴.
عکس: مهاجر نیوز

وی در این باره می‌گوید: «یک ماه پیش ۵ ساعت با قایق در حرکت بودیم که راه را گم کردیم و به سمت بلژیک رفتیم. یک قایق پولیس فرانسه ما را زیر نظر داشت و در نهایت مجبور شدیم از آنها کمک بخواهیم تا به فرانسه برگردیم«.

اما افغان‌ها تنها افرادی نیستند که در کمپ لون پلاژ آرزوی  رفتن به بریتانیا را در سر می‌پرورانند. دعوت، یک مهاجر اتیوپیایی نیز در کنار دیگران، دنبال چوب آمده و مطمئن است که تا رسیدن به بریتانیا، فاصله زیادی باقی نمانده است. او فکر می‌کند که در آن سوی کانال مانش آینده بهتری در انتظار اوست.

»در انگلستان می توانم زندگی خود را از سر شروع کنم«

این مهاجر ۲۸ ساله می‌گوید: «انگلستان آخرین شانس من است» او نیز، هنگامی که در سال ۲۰۱۷ کشورش را ترک کرد، به فکر رفتن به بریتانیا نبود. دعوت پس از چهار سال اقامت در لیبیا موفق شد به ایتالیا و سپس در ۲۰۲۱ به هالند برسد و در آنجا درخواست پناهندگی کرد اما آثار انگشتش در ایتالیا پیدا شد و باید یک سال و نیم صبر می‌کرد تا دوسیه‌اش بررسی شود. از آن زمان تاکنون او پاسخی دریافت نکرده است.

او می‌گوید: «در انگلستان سریعتر اسناد خواهم گرفت و خواهم توانست زندگی خود را از سر شروع کنم«.



دعوت، مهاجر اتیوپیایی در کمپ لون پلاژ: ««در انگلستان سریعتر اسناد خواهم گرفت و خواهم توانست زندگی خود را از سر شروع کنم.»، نومبر ۲۰۲۴. عکس: مهاجر نیوز

صدها مهاجر دیگر مانند عرفان الله یا دعوت در کمپ لون پلاژ، که سال‌ها از یک کشور اروپایی به کشور دیگر اروپایی سرگردان بوده‌اند، فکر می‌کنند که بریتانیا، برای شان بهشت موعود خواهد بود.

شرایط «غیر انسانی» و هزاران درخواست در حال انتظار در بریتانیا

این واقعیت دارد که در سیستم پذیرش بریتانیا از مهاجران حفاظت می‌شود، اما شرایط زندگی در مراکز پناهجویی در این کشور پیوسته از سوی سازمان‌های خیره مورد انتقاد قرار می‌گیرد. در سال ۲۰۲۳، سازمان‌های دیده‌بان حقوق بشر و Just Fair گزارشی منتشر کردند که در آن گفته شده بود پناهجویان در شرایط »غیرانسانی» در هوتل‌ها و اقامتگاه‌های موقت در بریتانیا اسکان داده می‌شوند.

از سوی دیگر، تصورات مهاجران در مورد سرعت رسیدگی به درخواست‌های پناهندگی در بریتانیا نیز همیشه با واقعیت منطبق نیست. بر اساس آخرین آمار پناهندگی از پارلمان بریتانیا، ۸۶ هزار درخواست اول پناهندگی، در بهار ۲۰۲۴ در حال انتظار قرار داشت. این رقم با این حال بهتر از مدت مشابه در سال ۲۰۲۳ (۱۳۴ هزار درخواست در حال انتظار) است.

خبرنامه